نجیب‌الله پاڅون
۲۰۲۶/۰۱/۲۸

# ولې ځينې پښتانه لا هم په خپله مورنۍ ژبه ليکل نهکوي؟

## د ژبې، هويت او ټولنيز مسؤليت له نظره يوه څېړنه

ژبه يوازې د انساني اړيکو او خبرو وسيله نه ده، بلکې د فکر جوړوونې، هويت، ټولنيز تسلسل او د يوه قوم د هويت تر ټولو روښانه نښه ده، هر قوم د خپلې ژبې په کچه پېژندل کېږي او هره ژبه د خپلو ويونکو د فرهنګي، تاريخي او فکري پانګې استازيتوب کوي. له همدې امله، د خپلې مورنۍ ژبې ليکل او کارول يو اختياري ذوق نه، بلکې يو فرهنګي، اخلاقي او تاريخي مسؤليت دی.

دا ليکنه د پښتو ژبې د ليکنې کارونې پر اړتيا تمرکز کوي او هغه ټولنيز، فرهنګي او ذهني عوامل څېړي چې ولې ځينې پښتانه، سره له دې چې مورنۍ ژبه يې پښتو ده، په ورځنۍ، کورنۍ او ټولنيز ژوند کې پرته له اړتيا په نورو ژبو ليکنې کوي. ليکنه دا استدلال کوي چې دا چاره ژبنۍ اړتيا نه، بلکې د ذهني استعمار، ژبني کمارزښتانګېرنې او د هويتي بې‌پروايۍ پايله ده.

پښتو د افغانستان د اکثريت ژبه، رسمي ژبه، تاريخي ژبه او د دې خاورې د هويت اساسي ستنه ده. له دې ټولو سره، سره له بده مرغه، په وروستيو او تېرو کلونو کې داسې يوه پديده پراخه شوې چې د ژبپوهنې، ټولنپوهنې او هويتي منطق له مخې د ژور فکر وړ ده.

هغه دا چې ځينې پښتانه چې ځانونه د پښتنو په لويو ټبرونو او خپلونو پورې تړلي ګڼي او تر ډېره يې ستاينومونه «تخلصونه» هم د همدې لرغونو خپلونو څخه ټاکلي وي؛ خو په ورځني ژوند، ټولنيزو شبکو، کورنيو مراسمو، رسمي خبرتياوو، ښوونيزو، او ان د ودونو او فاتحو په مراسمو او کارتونو کې، پرته له ژبنۍ اړتيا، خپله مورنۍ ژبه پرېږدي او په بله ژبه ليکنې کوي؛ حال دا چې مخاطبين، مېلمانه، بلوونکي او ټولنيز چاپېريال يې بشپړ پښتني وي. نو که چېرې دوی دا کار تکرار کوي او په خپله ژبه ليک، لوست او ويلو شرمېږي، دا له خپلې مورنۍ ژبې سره جفا ګڼل کېږي، دلته په دادِه ويل کېږي، چې خاين خلک خدای نه ښني او داسې خلک تل تاريخ رټلي وي.

په ژبپوهنه کې يو اصل شته، کله چې ژبه ونه ليکل شي، د زوال پر لور درومي. يونسکو د ژبو په راپورونو کې ټينګار کوي، (۱) چې د ژبې بقا له ليکلي توليد، رسمي کارونې او نسلي لېږد سره مستقيم تړاو لري.

پښتو که يوازې د خبرو ژبه پاتې شي او د ليکنې له ورځني ژوند څخه لرې وساتل شي؛ نو د اوږدمهاله بقا له خطر سره مخ کېږي، که څه هم ويونکي يې ډېر وي. که يو پښتون په درې، انګليسي يا بله ژبه ليکنه کوي، تر څو يو غيرپښتون مخاطب وپوهوي، علمي اړيکه ټينګه کړي، يا مسلکي اړتيا پوره کړي، دا يو طبيعي، سالم او د ژبني تنوع منل شوی عمل دی. خو کله چې هماغه پښتون بيا د خپل کور، خپلو خپلوانو، خپل کلي او خپل فرهنګي چاپېريال په منځ کې هم خپله ژبه نه کاروي، دا نوره اړتيا نه ده؛ دا يوه ستره ذهني بې‌پروايي ده.

موږ تاسو نن سبا ګورو دا چلند يوازې په ټولنيزو شبکو کې نه دی محدود پاتې شوی، بلکې تر کورنيو او د ژوند تر ټولو اړخونو رسېدلی.

فرانسوی ټولنپوه پيير بورديو ژبه د «سمبوليک ځواک» وسيله بولي، (۲) د هغه په اند؛ هره ژبه تر هغې ارزښتمنه ده، تر کومه چې ويونکي يې په عامه فضا کې ورباندې باور ولري.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په غير و لولئ

نو کله چي پښتانه په خپله تولنه کې، د خپلو خلکو تر منځ، خپله ژبه پرېږدي او په بله ژبه ليکنه کوي، دوی په قصدي توګه خپله ژبه بې ارزښته کوي.

ژبه تر هغې چې ونه ليکل شي، نيمګړې پاتې کېږي. ليکنه ژبه له لنډمهاله غږ څخه د تلپاتې حافظې مقام ته رسوي او هغه قومونه، چې خپله ژبه نه ليکي، په حقيقت کې خپله تاريخي حافظه نورو ته سپاري.

ارواښاد خان عبدالغفار خان «باچا خان» په همدې تړاو يوه تاريخي او ژوره خبره کړې وايي: «کوم قام ته چې خپله ژبه سپکه شي، هغه قام سپک شي؛ او د کوم قام نه چې خپله ژبه ورکه شي، هغه قام ورک شي.» (٣)

دا خبره يو شعار نه دی؛ دا د تاريخ يوه روښانه بېلګه ده. له افريقا تر اسيا، له امريکا تر استراليا پورې، هر هغه قوم چې خپله ژبه يې پرېښې، د تاريخ په اوږدو کې يا حل شوی او يا يې هويت پردی شوی دی.

## پښتانه او تولنيز مسؤليت:

هر هغه څوک چې ځان د پښتنو له سترو خپلونو او تاريخي ټبرونو سره تړي، خو په عمل کې د خپلې ژبې د عام استعمال مسووليت نه احساسوي، د هويت او عمل تر منځ واټن رامنځته کوي. په علمي منطق کې، هويت يوازې په نوم نه ثابتېږي؛ هويت په ژبه، چلند او فرهنګي ژمنتيا کې ځان ښکاره کوي.

## ولې بايد په پښتو ليکل وکړو؟ «ګټې او پايلې»

١- د هويت ساتنه: پښتو ليکنه زموږ کلتوري تسلسل ژوندی ساتي.

٢ ـ ذهني خپلواکي: خپله ژبه ليکل د فکري غلامۍ مخه نيسي.

٣ ـ فرهنګي توازن: ژبې هغه وخت عادلانه ژوند کوي چې هر قوم خپله ژبه وکاروي. ۴- ښوونيز پرمختګ: مورنۍ ژبه د پوهې د ژور درک تر ټولو قوي وسيله ده. ۵- ټولنيز يووالی: ژبه د قوم دننه د اعتماد او تړاو فضا پياوړې کوي.

## حل لارې او عامه پوهاوی:

١- پښتو بايد د ژوند په ورځنيو او کورنيو چارو او مراسمو کې د اصل ژبې په توګه وکارول شي.
٢- پښتانه دې په ټولنيزو شبکو کې د پښتو عادي، روان او معياري ليکدود پياوړی کړي.
٣- د ژبې دفاع دې له احساساتي شعار څخه عملي عادت ته واوړي.
۴- د پلورنځيو، مارکېټونو، ښوونيزو مرکزونو لوحې او بنرونه او همداراز د ودونو، فاتحو او نورو مراسمو خبرتياو ژبه دې جبري پښتو وګرځول شي.

## پايله:

پايله کې دا وايوو، چې دا بحث د کومې بلې ژبې پر ضد نه دی؛ دا د خپلې ژبې د حق په اړه دی. پښتو د شرم ژبه نه ده او د ټيټولو ژبه نه ده، پښتو د دې خاورې د اکثريت د فکر، احساس او تاريخ لرغوني او وياړلې ژبه ده.

نو که چېرې موږ په خپله مورنۍ ژبه ليکل، لوستل او خبرې کول پرېږدو، راتلونکي تاريخ ته به ځواب ونه لرو. پښتو بايد وليکو، وېوايو او وېلولو ځکه چې دا زموږ د هويت، فکر او فرهنګ ژبه ده؛ ژبه ژوند غواړي، او دا ژوند يوازې هغه وخت ساتل کېږي چې ژبه په ليکنه، لوست او ورځنيو چارو کې فعاله وساتو.

**د پښتو ژبې د بداينې په هيله!**

## ماخذونه:


١ – UNESCO. Education in a Multilingual World. Paris: UNESCO, 2003

٢ –Bourdieu, Pierre. Language and Symbolic Power. Harvard University Press, 1991

٣ ـ خان عبدالغفار خان «باچا خان» زما ژوند او جدوجهد





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولئ